هاري

واشنگټن، ۲۰۰۸/۰۹/۰۷م

# افغانان د کرزي او امریکا څخه خواتوري سوي دي

په افغانستان کي، د امریکایي قوي زیاتېدونکي مرګانی بمباری د امریکا په مطبوعاتو کي یو لړ جدي اندېښني راپورته کړي دي. اکثرو اخبارونو د هرات د شینډنډ قتل عام ته اشارې کړي دي، او وایي که چیري همدا مرګ ژوبله دوام پیدا کړي، ضرور به امریکا په افغانستان کي ناکامه سي. همدا راز، رپوټونه وایي چي په ا فغانانو کي د امریکا د نیت او پالیسیو په اړه شکونه را ولاړي سوي دي. زیاتره افغانان نن ورځ امریکا د پرون ورځي د شورویانو سره مقایسه کوي. افغانان باور لري چي امریکایي قوه په یوې اشغالګري او ظالمي قوې باندي بدله سوې ده. پدې لړ کي، دلته د دوو مشهورو او معبترو اخبارونو د سرمقالي او رپوټ لنډیز را غونډ سوی دی. کوښښ سوی دی چي د دواړو لیکنو مهم او ا ساسي ټکي وساتل سي او تکراري خبري لیري کړی سي.

د نیویارک ټایمز ورځپانه د سپټمبر پر ٦ پخپلي سرمقالي کي لیکي: په افغانستان کي، د تروریزم پر خلاف په جنګ کي، ملکي کسان سخت زیانمن سوي دي. که چیري پټنګان یوه بله سمه ستراتیژي انتخاب نکړي، امریکا به ورځ په ورځ د افغانانو ملاتړ له لاسه ورکوي. ددې امکان سته چي امریکا او ملګري یې همدا جنګ بایلوي.

د بشر د حقوقو د څارني موسسې په قول، سږکال په روانو جنګونو کي لږ تر لږه ٥٤٠ ملکي کسان تلف سوي دي. همدا موسسه وایي چي طالبانو ٣٦٧ خلک قتل کړي دي، او ١١٩ افغانان امریکایي بمباریو د مرګ ګوله کړیدي، او ٥١ نور افغانان د امریکایي او ناټو عسکرو په بریدونو کي قتل سوي دي.

پدې ارقامو کي، د تېري میاشتي هغه ٩٥ کسان ندي شامل چي واشنګټن یې د برخلیک په اړه د پوره څېړني غوښتنه کوي.

یو وخت، افغانانو امریکایي عسکر ازادي بخښونکې قوه بلله، خو اوس اکثره افغانان امریکایي عسکرو ته د غلیم په سترګه ګوري. برسېره پر دې، په افغانستان کي د امریکا په ملاتړ یو فاسد او بې کفایته حکومت د کرزي په مشري چلیږي چي په لوی لاس افغانان د طالبانو لمن ته ور پوري وهي.

په افغانستان کي، ډېر لږ امریکایي عسکر سته، او همدا دلیل دی چي امریکایان د طالبانو دختمولو لپاره پر بمباریو تکیه کړې ده. د بمونو اچول تل د عامه خلکو د تلفاتو سره ملګري وي.

دغه راز، امریکایي عسکرو په پاکستان کي هم حملې پیل کړي دي. هلته د عامه خلکود وژلوکېدو مسلې هم اندېښني راپورته کړي دي. د پاکستان سیاسي وضع نهایت بحراني ده، او امریکایي ضد احساسات هم مخ پر زیاتېدو دي.

بلخوا، د اسوشېټید پرس مشهوره ژورنالسټه، کتي ګانون، د سپټمبر پر شپږمي په انترناشنل هېرالډ ټربیون ورځپاني کي د ننګرهار د غني خیلو له سیمي څخه لیکي: دلته دسیمي ښایسته زیات خلک راغونډ سوي دي. څه که هم، د ملک محمد ږغ پوست او آرام دی، خو خبري یې تېرې او قهرجني دي. هغه په ډاکه وایي چي د سیمي خلک د کرزي د حکومت او د هغه د خارجي پلویانو څخه خواتوري سوي دي. په ګرده افغانستان کي همدا شان نارضایتی خورې سوي دي، او همدې عامه نارضایتی سږ کال د ١٩٥ خارجي عسکرو سرونه خوړلي دي چي ١٠٥ یې امریکایي عسکر دي.

دا رپوټ چي له کابل څخه نیولې بیا د افغانستان په ګوټ ګوټ کي پر مرکو باندي جوړ سوی دی، دا څرګندوي چي افغانان د امریکایي قواوو له زور زیاتي څخه پزي ته رسېدلي دي. عادي افغانان د امریکایي ړاندو او مرګانیو بمباریو، د کورونو نابېره تلاشیو، او د امریکایي عسکرو مغروره او بې باکه سلوک سخت په غوسه کړي دي. افغانان شکایت کوي چي خارجیان د دوی په کلتور او دودونو باندي نه پوهیږي. دغه راز، عادي افغانان د امریکا په ملاتړ د کرزي د فاسد او بې کفایته حکومت څخه هم په تنګ سوي دي.



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ملک محمد وايي: " دا زموږ وطن او خاوره ده. موږ خپل ماشومان له کوره بهر نه پرېږدو، ځکه ډارېږو چي امريکايي عسکر به يې را ښخه يوسي. هره ورځ موږ ددغو خارجي عسکرو سره ستونزي لرو. موږ ته نوره حوصله نده پاتي سوې. زموږ حکومت کمزوری او فاسد دی، او امريکايي عسکرو هيڅ ندي زده کړي."

که څه هم، په افغانستان کي تر پخوا زيات خارجي عسکر سته، خو امنيت تر پخوا خراب سوی دی.

د ٦٢ کلن امريکايي، ډانګ وانکيل، چي همدا اوس په افغانستان کي کار کوي وايي: "واقعا هر څه خراب سوي دي. امينت د تېرو کلونو په پرتله خراب سوی دی. اداري فساد له کنټرول څخه وتلی دی. څه چي بايد موږ په پوه سوو هغه دا چي د عادي افغانانو نظر په ريښتيا هم اهميت لري."

د غني خيلو سيمه هغه ځايه ته ډېر نژدې ده چي تېره مياشت پر يوه واده باندي په امريکايي بمباريو کي ٥٠ تنه وژل سوي وه. ددغه سيمي يو اوسېدونکی وايي تېره مياشت د هغه پر کور باندي امريکايي عسکرو دوه ځله چاپه ووهله، او عسکرو يي وراره وواژه. هغه زياتوي: "نه، نه، هغوی طالبان نوه. هغوی غوښتل چي حمام ته ولاړ سي. هغوی حتی توپک هم له ځانونو سره نه لاره."

ددې کلی خلک پدې پوهېدل غواړي چي هغه خلک او جاسوسان چي امريکايانو ته غلط استخبارات ورکوي، هغوی ولي نه توقيف کېږي؟ ولي امريکايي عسکر غلط او صحيح استخبارت سره بېلولای نسي؟ اختر محمد وايي: "اوه کاله تېر سوي دي. هغوی تر اوسه پوري څه ندي زده کړي. زه خوشبين نه يم."

د ناټو عالي قومندان، جنرال ډېويډ مککېرنان، د ملکي خلکو د وژلو پړه پر ياغيانو باندي اچوي، ځکه هغوی د ملکي خلکو څخه د ډال په توګه کار اخلي. مګر د متحده ايالاتو پخوانی سفير، رابرټ اوکلي، وايي مشکل په ستراتيژي کي دي. "تضاد پدې کي دی چي له يوې خوا غواړو چي لږ ملکي افغانان ووژل سي، او له بلي خوا، غواړو چي د امريکايي عسکرو تلفات هم کم وي. د لمړی هدف ته لاسته راوړلو لپاره موږ مجبوره چي عسکر پياده کوو، او د دوهم هدف د لاسته راوړلو لپاره بايد له هوا څخه ډزي وکوو."

کليوال وايي امريکا د دوي په قومي جوړښت، بديو، او حتی د مخدره موادو په موضوع باندي هم سم نه پوهېږي. ملک بختيار چي اوښکي يې په سترګو کي کوږم ولاړي دي، وايي چي څرنګه امريکايي عسکرو دهغه ورور د مخدره موادو د قاچاق او لابراتوار د درلودلو په تور توقيف کړ. هغه زياتوي: "امريکايان نه پوهېږي. دلته هر کور يو توپک لري. په هر کور کي اپيم سته."

په کابل کي، د افغانستان د بشر د حقوقو دمستقل کميسيون په ودانی کي، مامورين تر غوږو پوري په هغو ارقامو او امارو کي ډوب دي چي په افغانستان کي د عامه خلکو نارضايتي ښيي. ددغه کميسيون يو لښکر مامورين د افغانستان په ٣٤ ولايتونو کي په کليوالي سيمو کي قريب د ١٥٢٠٠٠ خلکو سره مرکي کړي دي. که څه هم، د عامه افکارو همدا سروې لا نده خپره سوې، خو د مقدماتي لنډي کتني څخه يې څرګندېږي چي د افغانانو په اجتماعي او اقتصادي ژوند کي د پام وړ منفي انکشاف راغلی دی. څه دپاسه ٧٣ فيصده افغانان وايي چي حکومت ته پرته له پيسيو څخه ورتلای نه سي. ددې کميسيون مشر، نادر نادري، وايي: "افغان مشران وايي کله چي حکومت ته ورسي، سپکاوی يي کېږي."

يو پوليس ، نجيب، چي نه غواړي پوره نوم يې ذکر سي وايي: په کال ٢٠٠١ کي په پوليسو کي داخل سو. امريکايي عسکرو څو ځله په خطا کي بمباری باندي کړي دي، او اوه ملګري يې پکي وژل سوي دي. هغه حکومتي چارواکو ته بدي ورکړي دي، او خپله يې هم د ګوزارې لپاره رشوت اخيستی دی. هغه وايي يو ملګری يې د پوليسو يوه چوکی د ٢٠٠٠ دالرو په بدل کي رانيولې ده، او وايي چي د پوليسو نوري غټي چوکی په ١٠٠٠٠ دالرو خرڅېږي.

نجيب وايي: "جمهورريس ژاړي، خو هيڅ نه بدلېږي. خلک خوابدي دي. دا کار به دامريکايانو لپاره ډېر ګران تمام سي، خو طالبان په زړه کي ګوري ماتوي. امريکايان يوه اشتباه نه کوي، بلکي هغوی زر خطاوي کوي، او پرله پسې خلک وژني."

بلخوا، اکثره خارجي مرستندويي موسسي له کابل څخه بهر نه وځي، او هم يې خپلو خلکو کارکونکو ته امر کړی دی چي له کابل څخه بلي خواته و نه ښورېږي. د کابل-کندهار لاره ناامنه ده. مګر د لاريو موټروانان مجبوره دي چي


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

پر وچلېږي. هغوی وايي: دوی له طالبانو څخه دونه نه بېرېږي لکه چي د غلو او پوليسو څخه. د رينډ کارپورېشن تحليلگر، سيت جونز، وايي: "يو افغان ټرک ډريور را ته وويل: طالبان مه ياد وه، زموږ لويه ستونزه د پوليسو سره ده."

په کابل کي، د خلکو برمته کېدل ورځ په ورځ زياتېږي، او افغانان د همدې ستونزي پړه پر پوليسو باندي اچوي. اکثره برمته کېدل مالي محرکونه لري، نه سياسي.

خو په هر صورت، طالبان نور هم پرمختگ کوي. د غزني اوسېدونکی او د طالبانو پخوانی غړی، محب الله وايي: "خلک له حکومت څخه پزي ته رسېدلي دي. هيڅوک په صداقت او ريشتيا کار نه کوي. که چيري خلکو ته ښه ژوند برابر سي، فابريکي جوړي سي، کارونه خلق سي، څرگنده خبره ده چي هيڅوک به په ملاعمر پسي ولاړ نه سي."

د بگرام په امريکايي اډه کي، جنرال مارک ميلي، وايي طالبان او القاعده لمړي دښمنان دي. دوهم غليم اداري فساد دی. "غربي عسکر، بين المللي قوه، او په تېره بيا امريکايي پوځيان د مرگانی قوې په استعمال کي نهايت محتاط دي. موږ باور لرو چي کاميابه کېږو."

خو د ننگرهار د قومي شورا مشران مخالف نظر لري.

۷۰ کلن عبدالصمد چي دنگه ونه او سپين وربښتان لري وايي: "د هغوی لپاره دا يو شرم دی. د طالبانو تر نسکورېدو را وروسته ښه فرصت برابر سوی وو، خو له لاسه ووت."

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de